# د ډیرو بې وزلو راجستر شوو کډوالو لپاره د ملګرو ملتونو د کډوالو عالی کمشنری UNHCR لخوا د نغدي مرستې پروګرام

د کرونا وبا د وضعیت په اړه، د ملګرو ملتونو د کډوالو عالی کمشنری (UNHCR) او دافغان کډوالو لپاره دعالی کمیسون رئیس (CCAR) او د سیفران وزارت، د خورا بې وزلو او اړمندو راجسټر شوي کډوال کورنیو لپاره د نغدي پیسو پروګرام پیل کړې دی چې د وبا د ناروغۍ له امله ډیر اغیزمن شوي دي، ددې پروګرام له لازې د ملګرو ملتونو د کډوالو عالی کمشنری (UNHCR) به د مئ په میاشت، کال 2020 کې د ټاکل شوي مستحق کډوال کورنۍ لپاره د یو ځل نغدي پیسو مرسته ورکوي

## ورتیا

**لومړی مرحله**



**د پاکستان حکومت یا یو.این.ایچ.سی.آر سره ثبتول، کډوال باید دلاندې اسنادو څخه یو سند ولري**

- پې او آر (POR) کارت چې د پای نیټه ئې ۳۱ دسمبر، کال ۲۰۱۵ لیکل شوې وي (یا د پې سی ایم / د کارتونو ترمیم مرکز څخه د اعتبار وړ ټوکن) ولري
- **د یو.این.ایچ.سی.آر د کډوالۍ کارت یا د یو.این.ایچ.سی.آر د پناه غوښتنې سند** (لږترلږه ۳۱ دسمبر ۲۰۱۹ پورې د اعتبار وړ وي)

ورکډوال باید د بې وزلې/اړمند معیارونو باندې برابروي چې پدې کې د جدي فزیکي او رواني/ دماغی معلولیت لرونکي او زاړه کسان چه کورنۍ نه لري، په کې شامل دي

## ایس ایم ایس تر لاسه کړئ

**دویمه مرحله**



ورکډوال به د پاکستان پوسټ آفس (Pakistan Post Office) څخه به ایس ایم ایس ترلاسه کړي

دا ایس ایم ایس به په مستقیم ډول د پاکستان پوسټ آفس (Pakistan Post Office) څخه راځي

ایس ایم ایس کې به د حوالې شمیره او د پاکستان پوسټ آفس ادرس لیکل شوی وي

ایس ایم ایس کې به د یو.این.ایچ.سی آر کومکی شمیره/هیلپ لاین هم شامل وي

نغدي پیسې باید د پاکستان پوسټ آفس څخه ترلاسته کړئ چې په ایس ایم ایس کې څرګند شوی دې

.ورکډوال باید په ۳۰ ورځو کې خپله نغدي مرسته تر لاسه کړي

## د پاکستان پوسټ دفتر کې نغدي پیسې ترلاسه کړئ

**دریمه مرحله**




د ایس ایم ایس د ترلاسه کولو نه وروسته په شخصي ډول د پاکستان پوسټ آفس ته مراجعه وکړئ

په پوسټ آفس کی، خپل هویت تاییدولو لپاره خپل ایس ایم ایس او ځانګړي هویت سند(POR)/پې او آر کارت/ټوکن یا د ملګرو ملتونو د کډوالو عالی کمشنری(UNHCR) سند) وښایاست

**د اصل اسناد راوستل ضروری دي** فوټو کاپي د منلو وړ نه دي

ستاسو د پیژنګلو او تایید نه وروسته ، نومړې نغدي مرسته به ستاسو په واک کې ورکړل شي

د یو ځل نغدي مرسته هره کورنۍ لپاره ۱۲،۰۰۰ پاکستانۍ کلدارې دي

کله چې پاکستان پوسټ آفس کې ئي، نو کډوال باید چې د روغتیا او خوندیتوب دلایلو **لپاره د فزیکي فاصله باره کې ټول حکومتي اصول ومني**

د پوسټ آفس کاري ساعتونه: د دوشنبی نه تر پنجشنبه د سهار له لسو (۱۰:۰۰) بجو څخه د ماسپښین تر څلور (۴:۰۰) بجو پورې او د جمعی په ورځ د سهار له لسو بجو څخه د ماسپښین تر یوی بجی پوری (په روژه کې کاري ساعتونه)

### نور معلومات

**<u>یوازې په استثنایي حالتونو کې</u>**، که مربوطه/اړوند کډوال د پاکستان پوسټ آفس کې د نغدي مرستې /ترلاسه کولو توان نلري ، دوی باید د مخکې نه ژر تر ژره د یو.این.ایچ.سی.آر کومکی شمیره هیلپ لاین سره اړیکه ونیسي

د پاکستان پوسټ آفس (Pakistan Post Office) به یوازې د ورکډوالو سره د ایس ایم ایس له لارې اړیکه نیسي، دی نه علاوه هیڅ قسمه مخابراتي وسیله نه استعمالیږي

د یو این ایچ سی آر او د سی سی ای آر (CCAR) ټول خدمتونه وړیا دي او د پاکستان پوسټ آفس به د کډوالو څخه ددی خدما تو په بدل کې هیڅ قسمه فیس نه اخلي

د شکایاتو په صورت کې، مهرباني وکړئ د سهار ۸ بجو څخه تر ماسپښین ۴ بجو پورې د ملګرو ملتونو د کډوالو عالی کمشنری (UNHCR) د کومکی شمیرې له لارې اړیکه ونیسئ

### د یو.این.ایچ.سی.آر کومکی شمیرې

خیبرپختونخواه: 03000544491, 03008585600, 03000544496

بلوچستان: 03337819601, 03331511630

سنده: 03422704888

اسلام آباد / پنجاب / د پاکستان تر واک لاندې کشمیر: 0301 114 2199

د ملګرو ملتونو د کډوالو عالی کمشنری (UNHCR) د تحفظ/خوندیتوب خدمتونه ایمیل: pakisprt@unhcr.org

د نورو معلوماتو لپاره ، مهرباني وکړئ زمونږ ویب سائټ وګورئ: www.unhcrpk.org

فیس بک: UNHCR Pakistan